# په سمنګان کې ۹ تنه پر روغتيايي کارکوونکي د جنسي تېري په تور نيول شوي

د سمنګان ولايت پوليس وايي پر روغتيايي کارکوونکي د پله پېر جنسي تيري په تور يې پنځه کسان نيولي دي. د رپوټونو له مخې پر دغې روغتيايي کارکوونکي تېره اوونۍ د سمنګان ولايت د رو دواب ولسوالۍ په روغتيايي مرکز کې پوځ دلې کسانو جنسي تيری کړی دی. د رپوټونو له مخې دغې روغتيايي کارکوونکي چې جنسي تيری پرې شوی، تيري کوونکي پېژندلي او پوليسو ته يې ښودلي دي. دغه کسان همدا شان پېدې ملامت شوي چې پر دغه روغتيايي مرکز د بريد پر وخت پر وسلو سمبال وو او پر بل روغتيايي کارکوونکي يې سخت وهلي او ډبولي دي. د سمنګان د پوليسو وياند هاشم بيان وايي چې له نيول شويو کسانو څخه يې څلور تنه له ۱۸ کلونو ټيټ عمر لري او نور يې د ۲۵ او ۳۰ کالو ترمنځ دي. ښاغلي بيان وويل: «دغه کسان د دوو روغتيايي کارکوونکو د ادعا له مخې نيول شوي دي. دوسيه مو څارنوالۍ ته استولې او قضيه تر پلټنې لاندې ده.» د سمنګان د والي وياند صديق عزيزي هم وايي چې ټوله هڅه يې دا ده چې دغه پېښه سمه وڅېړل شي او جزييات يې څرګند شي. مقامونو ويلي چې تر اوسه يې پر دغه روغتيايي مرکز د بريد د انګيزې په هکله اطلاعات ندي تر لاسه کړي.

Ketabton.com

# ...کار د دوام پر وړاندې د سياسي مخالفانو دريځ کودتا ده

...وام پر وړاندې د حکومت د سياسي مخالفانو دريځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا بلل کېدای شي.

...ـالکلي
...لمشر د
...رګولي
...ی دا د

د حکومت دې سياسي مخالفې ډلې د دوشنبې په ورځ په خبري غونډه کې وويل چې ولسمشر اشرف غني بايد پوسرپرست حکومت ته واک وسپاري. خو ارګ وايي،

دريځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا بلل کېدای شي. د ولسمشر د وياند مرستيال صميم عارف د سې شنبې په ورځ ... راډيو ته وويل، په دې اړه د اساسي قانون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**